# انانسي او عقل

Ghanaian folktale

Wiehan de Jager

Zahidullah Abid

3

پښتو ps

په پخوا زمانو کې خلک په هېڅ هم نه پوهېدل. د نباتاتو د کښت کولو لارې چارې نه ورتلې، د ټوکراوبدلو هنر یې هم زده نه و، حتی په دې هم نه پوهېدل چې له اوسپنې څخه څه ډول وسایل جوړ کړي. نیام خدای چې په آسمانونو کې و او د نړۍ په اړه یې ډېره پوهه لرله، خو هغه خپل عقل او پوهه په یو ختین لوښي کې خوندي کړې وه.

یوه ورځ، نیام پرېکړه وکړه او خپل ختېین لوښی یې انانسي ته ورکړ. هر ځلې چې انانسي ختېین لوښي ته کتل ډېر نوي شیان یې ترې زده کول. دا چاره ورته ډېره په زړه پورې وه!

خو هغه حریص و او له ځان سره یې دا وپتیله، چې همدا ختښین لوښی د لوړې ونې په سر کې پټ خوندي کړي چې دا ټول عقل د ده شي. هغه اوږد پړی راواخېسته او ختښین لوښی یې د خېلې خېټې پورې وتړه. او ونې ته یې په ختلو پیل وکړ. خو ختل ورته ستونزمن و، ځکه چې د پورته کېدو پر مهال یې لوښی د زنګنو سره لګېده.

په دې وخت کې د انانسي کشر زوی چې د ونې لاندې ولاړ ؤ اوخپل پلار ته یې کتل، ورته یې وویل: “که دا لوښی په خپل شا پورې وتړې ایا کار به دې آسانه نه شي؟” نو بیا انانسي هم د عقل څخه ډک ختین لوښی په شا پورې وتړلو او بیخي ورته آسانه شوه.

په ډېره آسانۍ سره هغه د ونې سر ته وخوت، بيا نو له ځان سره يې فکر وکړ: "زه بايد تر ټولو عقل مند واوسم خو دلته زما زوی تر ما ډېر هوښيار و!" انانسي په دې خبره دومره غوسه شو چې د عقل څخه ډک خټين لوښی يې له ونې څخه راګوزار کړ.

لوښی پر ځمکې ټوټه ټوټه شو. او عقل هر چا ته وړیا ورسېده. نو همدا و چې خلکو کرنه، د ټوکرو اوبدنه، د اوسپنې څخه ګټه اخیستنه او نور ټول هغه څه زده کړل چې اوس خلک يې ترسره کولی شي.

# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## انانسي او عقل

Ghanaian folktale
Wiehan de Jager
Zahidullah Abid

CC BY